د پښتو د ګرامر ربط له تاريخه سره

دا ژبه چې اوس موږ خبرې په کوو او د انساني ټولني د ذهن او وړتيا خورا ښه څرګندويه ده، په يوه وار په يوه خارق العاده ډول نه ده پيدا سوې، بلکې هرې ژبې د تاريخ په مختلفو دوروکې ډول ډول تحولات ليدلي او اوسني حال ته را رسېدلې دي.

د انسان د ژوندانه او ټولني اکثر مظاهر لکه :- کالي، دودونه، راشه درشه، ژبه، ادبيات، هنري نخښې د اسلافو را پاته سوي مواريث دي، چې هر يو يې د تېرو زمانو داستانونه په سپېڅلې وينا راته بيانوي، او هر څوک يې له تاريخه سره ټينګه اړه لري.

د ژبې بږغونه، کلمات، نومونه هم دغسې دي، چې هر يو په تاريخ کې ټينګې ريښې لري، او اوسنۍ ژبه له ماضي سره نښلوي. د پښتو په قاموس او ګرامر کې هم موږ ډېر څله داسې مواد مومو، چې د دې ژبې پر تاريخي اصالت ښه دلالت کوي او کله چې سړی ورته ځير سي له خپله تامله ښه نتيجه اخيستلای سي، چې دلته زه فقط يوه ګرامري خبره راخېږم، او د هغې اوسنی او تاريخي کيفيت رابرسېره کوم.

د تجليل او تحبيب کاف :

د پښتو د ځينو اسماوو په آخر پورې يو کاف نښلي، چې د ګرامر څېړونکو دغه کاف د تصغير علامت ګڼلی دئ، او د مصغر اسم په بحث کې يې راوړی دئ. مګر زه په ځينو تاريخي دلايلو سره وايم چې دغه کاف يوازې د تصغير علامه نه ده، بلکې کله کله د تجليل او تحبيب له پاره هم راځي.

که د پښتو نومونو نوعيت ته ځير سو، دغه کاف به پر دوه ډوله ووېشو :-

اول :- که دغه کاف د انسان له نامه سره راسي، نو به اکثر د تجليل او ميني مفهوم لري.

دوهم :- که غير له انسانه د نورو شيانو په نومو يا صفاتو پورې ونښلي، دلته نو د تصغير او سپکاوي کار ورکوي. لکه :- کوږ – کوږك، مږه – مږك، مړخوږك، ټيټك، لوڅك. هغه اول قسم د تجليل کاف د پښتنو په تاريخي نوموکې خورا ډېر دئ. لکه :- بارك، اڅك، سنك، هوتك، شيتك، ختك، ببرك، زمرك، شيرك، خيرك، څيرك.

په تاريخ کې هم دغه د تجليل کاف وينو، مثلاً ۱۸۰۰ کاله دمخه د بغلان په کتيبه کې ليدل کيږي، لکه :- لوی، لويك، خديو – خديوك، چې د پاچهانو نومونه او القاب دي، او ابن خرداذبه عربي مورخ او جغرافياوال د شاهانو نور نومونه لکه :- غوزك، نيزك، فورك هم ذکر کوي او په دغو نوموکې موږ فور په تاريخ کې ښه پېژنو.

کله چې لوی اسکندر تر اباسين تېر سو، نو د هند پاچا ورسره مقابل سو، چې نوم يې په هندي مهابهارت کې پرج او د يونانيانو په تاريخوکې پروس و، او دغه نوم بيهقي او البيروني او فردوسي او رشيد الدين وزير فور ليکلی دئ، او ټول عربي مورخان هم فور ملك الهند بولي.

مګر دا نوم د افغانستان په لهجوکې د اسماوو، دکلي قاعدې سره سم تجليل او فورك سو، لکه ابوالفرج روني چې د يوه غزنوي پاچا په مدحه کې وايي:-

تيغ توبه قهر بســـــتده باج
از خيل خـــتا و خان ايلك
... تو خورده خان و قيصر
مامور تو بوده رای فورك

په فارسي ژبه‌کي همدغه کاف کټ مټ د تجليل او تحبيب له پاره استعمال سو، مثلاً بابك د بابا تصغير نه دئ، او نه پلار تصغير کېدای سي.

د سلطان محمود يو مقتدر وزير حسنك و، چي دغه کاف هم د تجليل له پاره و. بلخي مولانا هم داسي ويلي دي :-

کاف رحمت گفتنش تصغير نيست

جد چو گويد طفلکم تحقير نيست

د کندهار شرقي خوا ته يو مزار دئ چي خلك يې خوجك بابا بولي، او تعظيم يې کوي. د دغه سړي په نامه يو کلی هم و چي اوس په ښارگۍ سوی دئ، مگر خوجك هم تصغير نه دئ، بلکي تجليل دئ.

د دغه تجليلي کاف له پاره يو بل تاريخي سند هم لرو، چي د افغانستان د يفتالي يا ابدالي کورنۍ مشهور پاچا مهراکولا ۵۰۰ ميلادي کال په حدودو کي د کندهار د روزگان په درۀ شالي کي يوه کتيبه پر يوه لويه پرښه ليکلې وه، هلته ده خپل نوم مهروزکي کښلی دئ، چي د ميرويس تجليلي شکل دئ، او مهراکولا يا ميرويس دواړه يوه معنا لري، يعني د لمر له کهوله.

له دغو تاريخي دلايلو څخه تاسي ته دا ښکاره سوه چي د تجليل دغه کاف له قديمه په افغانستان کي هم په پښتو او هم په نورو ژبو کي د ميني او لېونتوب د څرگندولو له پاره د نومو په آخر کي نښت او تر اوسه لا هم په پښتو کي په هغه پخوانۍ معنا پاته دئ.

دا يو مثال و، چي ما د خپلي وينا د عنوان د اثبات له پاره د تاريخي سندو په رڼا کي راوړ، او د پښتو د گرامر اصالت له قديمه راښيي. انساني علوم او د اجتماعي معلوماتو ريښې دغسي سره نښتي او شريکي دي او هر کله د ژبي د تحولاتو مظاهر او مثالونه په تاريخ کي په ښکاره ډول ليدل کيږي، او که د افغانستان د ژبو کلمات او قواعد دغسي د تاريخ په رڼا کي تحليل سي، نو به د هغو اصالت او زړتيا ښه ښکاره سي[۱].

---

[۱] کندهار مجله، ۱۱ – ۱۲ گڼه، ۲ مخ، ۱۳۴۳ ش.